یو سړی و چې ما بل څوک نه پېژانده چې له جومات څخه دې تر هغه لرې وي، خو هېڅ لمونځ يې نه پرېښوده

له أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضيَ اللهُ عنه څخه روایت دی، هغه ویلي چې: یو سړی و چې ما بل څوک نه پېژانده چې له جومات څخه دې تر هغه لرې وي، خو هېڅ لمونځ يې نه پرېښوده، وایي نو ورته وویل شول: یا دا چې ما ورته وویل: که ته یو خر واخلې چې د شپې په تیاره او د ورځې په تودوخه کې پرې سپرېږې، هغه وویل: زه نه غواړم چې کور مې د جومات خواته وي، زه غواړم چې تر جومات پورې مزل مې راته ولیکل شي او دا چې بېرته کله خپلې کورنۍ ته ځم، نو رسول الله صلى الله عليه وفرمایل: «الله تعالی درته دا ټول راټول کړي دي».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

ابی بن کعب رضی الله عنه وایي چې له انصارو څخه د یو سړي کور د مسجد نبوي څخه تر ټولو لرې و، حال دا چې هېڅ لمونځ به ترې نه پاتې کېده؛ بلکې هر لمانځه کې به د پېغمبر صلى الله عليه وسلم سره حاضر و، نو ورته وویل شو: که ته یو خر واخلې چې د شپې په تیاره او د ورځې د ګرمۍ پر مهال پرې سپرېدلی؟ نو هغه وویل: زه نه غواړم چې زما کور دې د جومات څنګ ته وي، ځکه زه غواړم چې الله تعالی جومات ته د لمانځه لپاره زما تلل او بېرته راتلل (ثواب) ولیکي، نو دا خبره يې پېغمبر صلى الله عليه وسلم ته ورسېده، هغه وفرمایل: «الله تعالی دا ټول تاته درکړي دي».

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3561